مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست ۲۰۲۵/۰۷/۰۱

او دا دښته ده ښه ډکه، له لیوانو او پلنګه

دا نظم مې څه باندې یوه میاشت مخکې نجونو ته لیکلی و؛ خو لا مې نشر کړی نه و.
اوس یې د هلمند هغې ماشومې معصومې ته ډالۍ کوم چې د ناوړه دودونو د سکروټو زنځیر یې تنکۍ غاړې ته واچول شو:

ته پیدا نیمه نړۍ یې؛ خو نړۍ دې ده بدرنګه
په دې ارت او لوی جهان کې د تا برخه ډېره تنګه
...
د اغزو منځ کې لوییږې، هره خوا خطر خطردی
شاوخوا د شک جالونه، سر خوړلی هر باور دی
د تا زړه صفا صفا دی؛ خو ښیښې ډکې له زنګه
...
ته کبلې یې تړې تړې، په صحرا کې لالهانده
په لټون کې د چینې یې، هر یو ګام اخلي لړزانده
او دا دښته ده ښه ډکه، له لیوانو او پلنګه
...
ستا تقدیر د بل په لاس کې، چې یې زړه وې هسې ټاکې
هیڅوک نه ګوري ستا زړه ته چې راخیژې پرې تپاکې
تش یو غږ کولای نشې، ستا خوږه ژبه ده ګونګه
...
ستا لمن باندې وچیږې، په ګناه لامده لاسونه
د تومت غشې وریږې، ستا پر زړه کړې ګوزارونه
ستا رنګونه الوتلې، که هرڅو وې ښه ګلرنګه
...
په نرې باد هم رژیږې، ستا د هیلو سره ګلونه
زورور توپان ته ګوره، ستا په خوا اخلي ګامونه
له پښو دې ځمکه تښتي او غورځیږې له ګړنګه
...
د حوا لورکۍ سلام دی صدقه دې له ایمان شم
تا کې نبۍ د مریم دې تقدس نه دې قربان شم
چې ترڅو یې وس رسیږې، وې (نعمان) به ستا په ننګه
....
نعمان دوست
د غویې ۲۹مه، ۱۴۰۴

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ